# ابادي اوونیزه
هفته‌نامه آبادی

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ګڼه: ۱۰ | مسلسل نمبر: ۱۰۰

دوشنبه، د ذوالحجې ۵مه، ۱۴۴۶ هـ.ق کال






## سرلیکنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې په صنعتي ساحو کې صنعت‌کارانو ته د ځمکې د ملکیت سند د وېش لړۍ د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د جوزا میاشتې په اوومه نېټه پیل شوه. د سندونو د ویش په لړ کې ۹۱ صنعت کارانو ته د صنعتي فعالیتونو په موخه په صنعتي ساحو کې د ځمکو د ملکیت سندونه ورکړل شول.

په ملي اقتصاد کې د صنعت او صنعتي تولیداتو اهمیت زیات دی. لامل یې دا دی چې دا سکتور د اقتصادي ودې، کارموندنې، نوښت او نړیوالې سیالۍ بنسټ جوړوي. صنعتي تولید د ملي اقتصاد د ناخالصو کورنیو تولیداتو د زیاتوالي اصلي محرک دی. د تولیدي فابریکو او صنعتي فعالیتونو له لارې د توکو تولید د اقتصادي فعالیتونو کچه لوړوي او د نورو سکتورونو لکه کرنې او خدماتو سره اړیکې پیاوړې کوي. دغه راز صنعت سکتور د کاري فرصتونو رامنځته کولو لپاره یو له مهمو سرچینو څخه دی. دا نه یوازې د ماهرو کارکوونکو لپاره، بلکې د غیر ماهرو کارګرانو لپاره هم د کار زمینه برابروي. په دې سره د بې‌کارۍ کچه راټیټه او د خلکو د ژوند کچه لوړېږي. صنعت سکتور د ملي اقتصاد د پرمختګ له پاره د شا رګ حیثیت لري. د صنعت د ودې او پراختیا له پاره د پانګونې، زیربناوو پراختیا او پالیسیو جوړولو ته اړتیا ده، ترڅو د اقتصادي ثبات او نړیوالې سیالۍ په برخه کې مثبتې پایلې ترلاسه شي. اسلامي امارت د صنعت د ودې او پرمختګ له پاره نه یوازې هڅې کړې، بلکې عملي ګامونه یې هم پورته کړې دي. د صنعتي ساحو قانون د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی له لوري توشیح شو. اوسمهال د همدې قانون له مخې په صنعتي ساحو کې د ځمکې د ملکیت سندونه وویشل شول. د صنعت په سکتور کې پانګونه هم جلب او جذب شوې ده. همدا لامل دی چې د اسلامي امارت په راتګ سره بیا تر دې مهاله په ټول هېواد کې ۱۵۰۰ نوي صنعتي فابریکې فعالې او تولیدات لري. د ځمکو په ویش سره به د هېواد په کچه صنعتي پارکونه رامنځته او صنعت به لا پرمختګ وکړي. صنعتي پارکونه د تولیدي فعالیتونو د متمرکز کولو له لارې په ملي اقتصاد کې مستقیمه ونډه لري.

دا یو واقعیت او حقیقت دی چې یو هېواد د صنعت پر مټ کولای شي، د پرمختګ مرحلې ته ورسیږي. تر هغې چې صنعت وده ونه کړي او هېواد صنعتي نه شي، شوني نه ده چې هېواد دې ترقي او اقتصاد دې پیاوړی شي. همدا لامل دی چې اسلامي امارت د صنعت اهمیت ته په کتو د هېواد د صنعتي کېدو له پاره خپلې هلې ځلې ګړندۍ کړې دي. ددې هلو ځلو یوه بېلګه یې د هېواد په بېلا بېلو برخو کې د صنعتي ساحو رامنځته کول او بیا یې پر صنعتکارانو ویشل دي. د صنعت په پیاوړتیا سره به هېواد له وارداتي حالته را ووځي او پر صنعتي هغه به بدل شي او ترڅنګ به یې په ټول کې د همدې سکتور په برکت هېواد په بشپړ ډول د پرمختګ مسیر ته برابر او په ډېر کم وخت به هېواد په اقتصادي لحاظ پرمختګ وکړي.

### د صنعت اوونۍ څلورم ملي او نړیوال نندارتون پرانیستل شو



۲ صفحه

### محترم ملا عبدالغني برادر اخوند: په صنعتي ساحو کې د ځمکو له وېش سره به نوی فصل پیل او هېواد به له صنعتي پلوه لا پیاوړی شي



۳ مه صفحه

### محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په هرات کې د شاوخوا ۶۸میلیون ډالرو په پانګونې سره د برېښنا دوې پروژې پرانیستې



۴مه صفحه

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصــادي او ټــولنیزو مسایلـــو په برخــه کــې
د ریاســـت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اباډي اوونیزه
هفته‌نامه آبادی



## د صنعت اوونۍ څلورم ملي او نړیوال نندارتون پرانیستل شو




د ریاســتالوزراء اقتصادي مرســتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په کابل کې د صنعت اوونۍ د څلورم ملي او نړیوال نندارتون پرانیســته وکړه. دغــه نندارتون د روان ۱۴۰۴ لمریــز کال د جوزا میاشتې په شپږمه نېټه په کابل کې د افغانستان نړیوال نندارتون په مرکز کې پرانیستل شو.

مــحترم ملا عبدالغني برادر اخوند صنعــت د هر ملت د پرمختګ اساس یاد کړ او ویې ویل، موږ نن ورځ د هغو هېوادونو شاهدان یو چې یوازې د صنعتي انقلاب له برکته یې خپل زېربنايي بنســتونه قوي کړي، بې‌کاري یې له منځه وړې او خپلو تولیداتو ته یې ښه مارکېټونه پیدا کړي دي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، د صنعت اوونۍ یوازې سمبولیک عنوان نه، بلکې دا د یوه حرکت، بدلون او قوي عزم ځرګندونه کوي، چې موږ باید له وارداتي اقتصاد څخه؛ تولیدي، صادراتي او په خپلو پښو ولاړ اقتصاد لوري ته ولاړ شو. د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال وویل، د اسلامي امارت له راتګ سره ســم د صنعت ســکتور د پام وړ پرمختګ کړی. تر دې دمه شــاوخوا ۱۵۰۰ نوې فابریکې جوړې شوې، چې له امله یې نږدې اویا زره هېوادوالو ته د دایمي کار زمینه برابره شوې ده. اوسمهال افغانستان په ۱۳۸ صنعتي او تولیدي سکتورونو کې خودکفایۍ ته رســېدلی، دغه پرمختګ نه یوازې د بېکارۍ د کمولو په برخه کې مهم ګام بلل کېــږي، بلکې د اقتصادي ثبات او پیاوړتیا لپاره هم بنسټیز ارزښت لري.

محترم ملا صاحب زیاته کــړه، اسلامي امارت د هېواد د صنعتي کېــدو لپاره په بېلابېلو ولایتونو کــې د صنعتي پارکونو جوړېدو ته لومړیتوب ورکړی، چې په نږدې ورځو کې به په صنعتي ساحو کې صنعتکارانو ته د ځمکو د ملکیت سند د ورکړې شاهدان و اوسو. دا صنعتي پارکونه به نه یوازې د تولید لپاره چاپېریال برابر کړي، بلکې لسګونه زره هېوادوالو ته به د کار زمینه هم مساعده کړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اسلامي امارت د خصوصي سکتور د ملاتړ په موخه پر هغو وارداتي اقلامو ګمرکي تعرفې لوړې کــړې، چې هغه په کور دننه تولیدېږي او د هېوادوالو اړتیاوې پوره کولی شي. د دې تر څنګ ټولو امارتي ادارو ته هدایت شوی، چې په خپلــو خریداریو او تدارکاتي پروســو کې کورنیــو تولیداتو او محصولاتو تــه لومړیتوب ورکړي، که څه هم کیفیت یې د بهرنیو تولیداتو او محصولاتو په پرتله څه نا څه ټیټ وي.

د صنعت اوونۍ څلورم ملي او نړیوال نندارتون په مراســمو کې د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال وویل، د اسلامي امارت له راتګ سره په هېواد کې د پانګونې لپاره ښه زمینه برابره شوې ده. دا مهال د برېښنا، کانونو، کرنې، صنعت، ترانسپورټ، زېربناوو، مخابراتو، روغتیا او ګڼو نورو ســکتورونو کې کورنیو او بهرنیو پانګوالو عملاً پانګونې کړې او په دې برخه کې ورته ډېرې اســانتیاوې رامنځته شــوې دي. محترم ملا صاحب صنعــتکاران د هېواد د اقتصاد جوړولو اساسي ځواک وباله او د صنعت په برخه کې یې د هغوی د هڅو او نوښــتونو ســتاینه وکړه. هغه زیاته کړه:« تاسې په خپلو تولیداتو کــې د کیفیت، قیمت او کمیت تضمیــن راکړئ، زه له همدې سټېجه وعده درکوم چې د کورني تولید د ملاتړ په موخه به له بهر څخه پر ورته واردېدونکو اقلامو د خودکفایۍ په اندازه تعرفه لوړه کړو.» د صنعت اوونۍ څلورم ملي او نړیوال نندارتون د هېواد د ملي صنعت د وړتیاوو، ظرفیتونو او لاسته راوړنو د معرفي کولو په موخه جوړ شــوی، چې ســلګونو کورنیو شرکتونو د خوراکي توکو، درملو، لبنیاتو، ساختماني توکو، لاسي صنایعو، غالیو، پلاستیک، بټریو جوړولو، اوســپنې ویلې کولو او لسګونو نورو برخو کې خپل صنعتي تولیدات او کرنیــز محصولات نندارې ته وړاندې کړي و. دغه نندارتون یوه اوونۍ دوام درلود.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند: په صنعتي ساحو کې د ځمکو له وېش سره به نوی فصل پیل او هېواد به له صنعتي پلوه لا پیاوړی شي

د ریاســتالوزراء اقتصادي مرســتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې په صنعتي ساحو کې صنعتکارانو ته د ځمکې د ملکیت سند د وېش لړۍ د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د جوزا میاشتې په اوومه نېټه پیل شوه.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په همدې مناســبت په صنعت او سوداګرۍ وزارت کې جوړ شوو مراسمو ته وویل، د صنعت وده د یو هېواد د اقتصادي خودکفایۍ، ټولنیز ثبات او د بې‌کارۍ کچې راټیټولو لپاره تــر ټولو مؤثره طریقه ده. له همدې امله، د اسلامي امارت هدف دا دی چې د خصوصي سکتور لپاره داسې چاپېریال برابر کړي، څو هغوی په ډاډ سره پانګونه وکړي، فابریکې جوړې او د هېواد د تولیدي ځواک برخه وګرځي.

محترم ملا صاحب وویل، د صنعتي ساحو د تنظیم له لارې د هېــواد د اقتصادي ودې او پرمختیا، د خصوصي پانګې د جلب او جذب او همدارنګ د صنعتي ساحو د مدیریت، ساتنې او مراقبت په موخه د افغانستان اسلامي امارت زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی له لوري د صنعتي ســاحو قانون توشــیح شوی دی. دا قانون په صنعتي ســاحو کې صنعتکارانو او پانګوالو ته د صنعتي فعالیتونو د ترسره کولو لپاره لازمې زمینې او اړوندې نورې اسانتیاوې مساعدوي؛ څو له یوې خوا هېوادوالو ته کاري فرصتونه پیدا شي او له بلې خوا د هېواد په اقتصادي وده او پراختیا کې د پام وړ لاسته



# ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او تولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اباديٓ اوونیزه
هفته‌نامه آبادی

راوړني ولرو.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، د صنعتي ساحو جوړولو لپاره د ځمکو د ورکړې په اړه عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی حکم کړی، څو د نوي منظور شوي قانون، چاپېریال ساتنې او ښاري ماستر پلان مطابق د کابل په څلورو خواوو کې دوه دوه زره جریبه ځمکه، په ننګرهار، کندهار او بلخ ولایتونو کې شل شل زره جریبه ځمکه، په کندوز ولایت کې لس زره جریبه ځمکه او په پاتې نورو ولایتونو کې د امکان په صورت کې د صنعتي پارک لپاره په هر ولایت کې زر جریبه ځمکه، د کوچني صنعت او تشبثاتو لپاره په هر ولایت کې له سو څخه تر پنځوس جریبه ځمکه ځانګړې او وسپارل شي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل: «د همدې هڅو په لړ کې نن ورځ مونږ او تاسې ۹۱ صنعتکارانو ته د صنعتي فعالیتونو په موخه په صنعتي ساحو کې د ځمکو د ملکیت د سند د ورکړې شاهدان یوو.» هغه زیاته کړه، په صنعتي ساحو کې ځمکو له وېش سره به نوی فصل پیل او هېواد به له صنعتي پلوه لا پیاوړی شي. محترم ملا صاحب په ټینګار سره د صنعتي ځمکو له ګټه اخیستونکو وغوښتل چې له یادو ځمکو څخه د تولید او د صنعت د پیاوړتیا په برخه کې مناسبه او مؤثره ګټه واخلي. صنعت کارانو ته یې ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت د صنعت د ارتیاوو د پوره کولو په موخه د بربېښنا پر بنسټیزو پروژو کار پیل کړی چې له نیکه مرغه چارې یې تر ډېرې اندازې پر مخ تللې دي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اسلامي امارت د خصوصي سکتور د پیاوړتیا، اقتصادي ودې او ملي صنعت د پرمختګ لپاره ډېرې اسانتیاوې او امتیازات په پام کې نیولي او هدف یې دا دی چې د پانګوالو لپاره یو باوري، باثباته او خوندي چاپېریال برابر کړي. هغه زیاته کړه، اسلامي امارت ټولو صنعتکارانو او پانګه‌والو ته ډاډ او ژمنه ورکوي چې د تولید او محصولاتو د قیمت، کیفیت او کمیت د تامین په صورت کې به پر بهرنیو مشابه اموالو د خودکفایي په اندازه تعرفه لوړېږي. په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په کور دننه او بهر کې میشت افغان پانګوالو څخه وغوښتل چې خپل صنعت، تجربه او پانګه افغانستان ته را انتقال او د هېواد د اقتصادي بنسټونو په پیاوړتیا، د کاري فرصتونو په برابرولو او د صنعت سکتور په پراختیا کې فعاله ونډه واخلي.




## د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه ترسره شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه ترسره شوه. دغه غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د جوزا میاشتې په اتمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه.



غونډې ته له اجندا سره سم ملت ستیل او خان وزیري شرکتونو ته د بامیان ولایت د یکاولنګ ولسوالۍ د سیاه درې سیمې د اوسپنې د ظواهرو د قرارداد ورکړې موضوع وړاندې شوه. له مفصل بحث وروسته یادو شرکتونو ته د بامیان ولایت د یکاولنګ ولسوالۍ د سیاه درې سیمې د اوسپنې د ظواهرو د قرارداد ورکړه په دې شرط تایید شوه، چې یاد شرکتونه به په هېواد کې د اوسپنې د سل سلنه پروسس فابریکې جوړوي او له سل سلنه پروسس شوې اوسپنې څخه به ۲۰ سلنه رویالیتي کانونو او پټرولیم وزارت ته ورکوي.

دې غونډې ته د کندوز ولایت د چهاردرې ولسوالۍ د کورې تاو سیمې د ګچ ډبرو د لومړي او دوهم بلاکونو د رویالیتي موضوع هم د بحث لپاره وړاندې شوه. له بحث وروسته د یاد کان د لومړي او دوهم بلاکونو د فی ټن ګچ ډبرو لپاره ۲۵۰ افغانۍ رویالیتي وټاکل شوه. همدارنګه د


ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اباډي اوونیزه
هفته‌نامه آبادی

دې ترخنګ د ننګرهار ولایت د ګوشتې ولسوالۍ اړوند د لقمان ډنډ سیمې د مرمرو ډبرو کان او د دغه ولایت د حصارک ولسوالۍ اړوند د جوکان سیمې د مرمرو ډبرو کان د رویالیټي پر موضوع هم بحث وشو. له هراړخیز بحث وروسته کانونو او پټرولیم وزارت ته دنده وسپارل شوه، څو د یادو کانونو د رویالیټي په اړه له ګټونکو شرکتونو سره مذاکره ترسره او خپل راپور اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي. همداراز د کاپیسا ولایت د تګاب ولسوالۍ د ولګی کلي د نفرایټ ډبرو د ظواهرو د قرارداد په اړه هم بحث وشو. له هراړخیز بحث وروسته د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې د نظر په پام کې نیولو سره پرېکړه وشوه، چې د یاد کان د ظواهرو د قرارداد ورکړه کانونو او پټرولیم وزارت ته د ۶۰ سلنه رویالیټي په ورکړې سره تایید ده.

د غونډې په پای کې د ننګرهار ولایت د شېرزادو ولسوالۍ د ګاټ مېنه جړوبي مرکي‌خېل سیمې د سرپنټین د ظواهرو د قرارداد د ورکړې په اړه هم بحث وشو. له مفصل بحث وروسته پرېکړه وشوه چې کانونو او پټرولیم وزارت دې یاد کان ازادې داوطلبۍ ته وسپاري او د مالي او تخنیکي ارزونې په پایله کې دې وړ شرکت انتخاب او اقتصادي معاونیت ته یې دې وړاندیز کړي.

پورته نیول شوي تصامیم د منظورۍ په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب دفتر ته واستول شول.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په هرات کې د شاوخوا ۶۸میلیون ډالرو په پانګونې سره د برېښنا دوې پروژې پرانیستې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د جوزا میاشتې په لسمه نېټه په هرات ولایت کې د ۴۳.۲ میګاواټه بادي او پنځه میګاواټه لمریزې برېښنا تولیدي پروژې پرانیستل شوې.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته وویل، نن په هرات ولایت کې د بادي او لمریزې برېښنا د دوه مهمو پروژو د پرانیستې شاهدان یوو، چې دا د هېواد د انرژۍ سکتور د پراختیا، عصري کېدو او خودکفایۍ ته د رسېدو په برخه کې مهمه لاسته راوړنه بلل کېږي. دا پروژې به نه یوازې پر وارداتي برېښنا د هېواد اتکا راکمه کړي، بلکې د چاپېریال ساتنې، دوامدارې انرژۍ او نوې ټکنالوژۍ د ترویج لپاره هم فرصتونه برابر کړي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، افغانستان له اوږدې مودې راهیسې په وارداتي برېښنا متکي دی او د هېواد د ملي بودجې یوه لویه برخه هر کال د وارداتي برېښنا د پېرلو لپاره لګول کېږي. د هغه په خبره، وارداتي برېښنا له یوه لوري قیمته ده او له بل اړخه په اوږدمهال کې دا چاره دوامنه او ګټوره نه ده.



محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اسلامي امارت د برېښنا سکتور په برخه کې له کورنیو ظرفیتونو پر سالمې ګټې اخیستنې تمرکز کړی او په دې برخه کې جدي هڅې کوي. نوموړي زیاته کړه، د دغو پروژو له لارې به نه یوازې د برېښنا د تولید ظرفیت لوړ شي، بلکې د هېواد اقتصادي پرمختګ، د کاري فرصتونو رامنځته‌کولو، د کورنیو او بهرنیو پانګوالو هڅونه او د زېربناوو پراختیا ته به هم لاره هواره شي.

په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ټولو کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته یوځل بیا ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت په افغانستان کې په مختلفو سکتورونو په ځانګړې ډول د برېښنا سکتور کې د پانګونې لپاره اسانه شرایط رامنځته او په دې برخه کې یې شفاف او امن چاپېریال برابر کړی دی. پانګوال کولی شي له دې فرصت څخه پوره استفاده وکړي. محترم ملا صاحب د یادو پروژو له قراردادي شرکتونو څخه وغوښتل چې چارې یې د منلو شوو معیارونو په پام کې نیولو سره په ښه ډول پرمخ بوځي.

د یادونې وړ ده چې د خصوصي سکتور او افغانستان برېښنا شرکت له لوري د ۴۳.۲میګاواټه بادي برېښنا پر پروژه څه باندې ۶۴میلیون ډالر او پر پنځه میګاواټه لمریزه برېښنا پروژه شاوخوا ۳.۵میلیون ډالر پانګونه کېږي

# اخبار اقتصادی هفته

## تلاش اسلام‌آباد و تاشکند برای تقویت همکاری‌های اقتصادی با کابل

نمایندگان ویژه پاکستان و ازبیکستان در امور افغانستان درباره تقویت همکاری‌های اقتصادی با افغانستان گفت وگو کرده‌اند. آن‌ها گفته‌اند که محور این گفت‌وگوها، گسترش همکاری‌ها در زمینه تجارت، پروژه‌های اقتصادی و ارتقای ظرفیت‌های منطقه‌ای بوده است. این دو مقام از اسلام‌آباد و تاشکند همچنین درباره پروژه خط



آهن ازبیکستان-افغانستان-پاکستان نیز سخن گفته‌اند. عبدالحسیب صافی آگاه مسایل اقتصادی گفت: «هرقدر که ما با کشورهای همسایه تعاملات اقتصادی داشته باشیم، به همان اندازه می‌توانیم از این کشورها نفع اقتصادی ببریم و از تجارب، مزایا، امکانات و ظرفیت هایی که کشورهای همسایه و جهان دارند، در بخش اقتصادی استفاده کنیم.» پروژه منطقه‌ای «افغان-ترانس» از عناصر کلیدی روابط میان تاشکند، کابل و اسلام‌آباد است. این پروژه با هدف ایجاد دهلیز اقتصادی که آسیای مرکزی را به آب‌های اقیانوس هند وصل کند، طراحی شده و نقش حیاتی در توسعه اقتصاد افغانستان ایفا خواهد کرد؛ طرحی که از سال ۲۰۱۸ به این سو به دلایل نامعلوم تاکنون اجرا نشده است. وزارت اقتصاد، افغانستان را حلقه وصل میان پاکستان و ازبیکستان می‌داند و گسترش همکاری اقتصادی، تجارتی و ترانزیتی را در تقویت پروژه افغان-ترانس و رشد اقتصاد این سه کشور سودمند ارزیابی می‌کند.

## توسعه خدمات مخابراتی با منظوری ۵۵۰ سایت جدید در سراسر افغانستان

نجیب‌الله حیات حقانی سرپرست وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی در سفر به پکتیا، از منظوری ۵۵۰ سایت جدید مخابراتی در سراسر کشور خبر داده است. آقای حقانی گفته که با فعال شدن این سایت‌های مخابراتی، باشندگان مناطق دوردست کشور از خدمات مخابراتی بهره‌مند خواهند شد. این سایت‌ها از سوی



شبکه‌های گوناگون مخابراتی در کشور ایجاد می‌شوند. سرپرست وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی هم‌چنان گفته است: «در پروژه جدید دهم ۵۵۰ سایت در سراسر کشور در نظر گرفته‌ایم. شما از ولایت پکتیکا یاد کردید، از میان سایت‌های یادشده به تعداد ۷۴ سایت در مرکز پکتیکا و ولسوالی‌های دوردست آن منظور شده است.» در همین حال شماری باشندگان پکتیا، خواستار بهتر شدن کیفیت خدمات مخابراتی و توسعه ساحه پوشش در این ولایت هستند. بر بنیاد معلومات وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی، در این پروژه‌ها برای ولایت پکتیا ۴۸ سایت و برای ولایت پکتیکا ۷۴ سایت مخابراتی در نظر گرفته شده است که در مرکزها و ولسوالی‌های این ولایت‌ها نصب خواهد شد.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

آبادي
هفته‌نامه آبادی




# سرمایه‌گذاری و نقش آن در کاهش بیکاری

فضل ولی شیرانی

## مقدمه

اقتصاد افغانستان به دلیل اشغال و همچنان خشکسالی که این کشور را فرا گرفته، به شدت آسیب دیده است. در این دوره با تغییرات بزرگ، اشغال و هرج و مرج روبرو شد. این مشکلات، همراه با اخراج اجباری اخیر پناهندگان افغان از کشورهای همسایه، عامل دیگری است که می تواند بر بازار کار در این کشور تأثیر منفی بگذارد. برای پیشرفت کشور و تسریع رشد اقتصادی، فراهم کردن فرصت‌های شغلی برای هموطنان مان مهم است. برای ایجاد فضای کار، لازم است پروژه‌های بزرگ، متوسط و کوچک در بخش‌های مختلف زیربنایی راه‌اندازی شوند. در حال حاضر، چنین طرح‌هایی در سراسر کشور در حال اجرا هستند، اما در سطحی نیستند که ثبات اقتصادی را به طور کامل برقرار کرده و بیکاری را از بین ببرند. بخش مهمی از این امر که می‌تواند به این مشکلات پایان دهد، جلب و جذب سرمایه است. اگر علاوه بر سرمایه گذاری داخلی، سرمایه گذاری خارجی هم جذب شود، می توانیم اقتصاد مان را تقویت کنیم و به بیکاری پایان دهیم. با وجود جلب و جذب سرمایه گذاری در زیربناها، راه‌آهن، تولید سمنت، استخراج نفت و معادن، امارات اسلامی این موارد را کافی نه دانسته و تلاش می ورزد تا سرمایه‌گذاری های داخلی و خارجی بیشتری را جذب کند. برای آشنایی با اهمیت سرمایه‌گذاری در ریشه‌کن کردن بیکاری، مطلب زیر را با هم می خوانیم.

## اهمیت سرمایه‌گذاری در کاهش بیکاری

بیکاری، معضلی است که نه تنها در کشورهای توسعه‌یافته، بلکه در کشورهای در حال توسعه و توسعه نیافته نیز وجود دارد. هر کشور تلاش می کند تا تقاضای نیروی کار را افزایش دهد تا بیکاری کاهش یابد، اما بسیاری از کشورها هنوز نتوانسته اند به طور کامل به این مشکل پایان دهند. بیکاری در افغانستان به دلیل ناآرامی‌های چهار دهه گذشته افزایش یافته و باعث شده مردم با مشکلات اقتصادی



متعددی روبرو بوده و همچنان روبرو باشند. بیکاری علاوه بر پیامدهای نامطلوب اقتصادی، انسجام اجتماعی را نیز از بین می‌برد. نرخ بیکاری در افغانستان در حال حاضر افزایش نیافته است، بلکه در دوران حکومت‌های قبلی نیز بالا بود. در دوران اداره قبلی کابل، با وجود حضور تعداد زیادی از نهادها، سازمان‌ها و شرکت‌های ساختمانی خارجی، نرخ بیکاری تا ۷۰ درصد نیز می‌رسید. امارت اسلامی نیز به جنبه‌های منفی و پیامدهای وخیم این مشکل پی برده است. به همین دلیل است که او تمام توجه خود را روی این مشکل متمرکز کرده است. امارت اسلامی تلاش می‌کند تا برای از بین بردن علل بیکاری تلاش کند. یکی از دلایل این امر، کمبود سرمایه‌گذاری است.

یکی از مشکلات عمده در افغانستان که مدت هاست موجود می باشد، فقدان فرصت‌های سرمایه‌گذاری در این کشور است که تأثیر منفی بر اقتصاد و افزایش بیکاری داشته است. اگر فرصت سرمایه گذاری ایجاد می شد، کشور ما تاکنون در بسیاری از بخش ها پیشرفت های زیادی کرده بود. ولی هنوز هم فرصت موجود است. علیرغم مشکلات مختلف از جمله محدودیت‌های اعمال شده از سوی جامعه جهانی، امارت اسلامی توانسته است در توسعه اقتصادی، به ویژه در جلب و جذب سرمایه‌گذاری، دستاوردهای چشمگیری داشته باشد و گام‌های قاطع در این زمینه بردارد. تاکنون کشورهای مختلف و بسیاری از شرکت‌های خارجی علاقه خود را برای سرمایه‌گذاری در بخش‌های مختلف زیربنایی، خدماتی و عام‌المنفعه ابراز کرده‌اند که برخی از آنها عملاً کار خود را آغاز نموده است. سرمایه‌گذاری در بخش هایی صنعت و تجارت، زیربنا، معدن و بخش‌های مشابه جذب شده و برخی از پروژه‌های سرمایه‌گذاری آغاز شده‌اند. برای مثال، می‌توان به سرمایه‌گذاری در تعدادی از پروژه




ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـادي او ټـولنيزو مسايلـو په برخـه کـې
د رياســت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ابادي
هفته‌نامـه آبـادی


هـای تولید برق با ظرفیت ۲۶۱ میگاوات اشـاره کرد. این پروژه‌ها شامل پروژه‌ی برق خورشـیدی ۲۲.۷ میگاوات در ولسـوالی سروبی ولایت کابل، پروژه‌ی برق خورشیدی ۴۰ میگاوات در ولسـوالی دهدادی ولایت بلـخ، پروژه‌ی برق خورشـیدی ۵ میـگاوات در ولایت هرات، پـروژه‌ی برق خورشیدی ۱۰ میگاوات در ولایت لغمان، پروژه‌ی برق بادی ۴۳.۲ میگاوات در ولایت هرات، پروژه‌ی برق خورشیدی ۴۰ میگاوات در ولسـوالی محمد آغه ولایت لوگر، پروژه‌ی برق خورشیدی ۴۰ میگاوات در پارک صنعتی شیخ مصری ولایت ننگرهار، پروژه‌ی برق گازی ۵۰ میگاوات در شبرغان، مرکز ولایت جوزجان، و پروژه‌ی برق خورشـیدی ۱۰ میگاوات در ولسوالی سروبی ولایت کابل به بهره برداری رسید.

این پروژه‌ها در مجمــوع ظرفیت تولید ۲۶۱ میگاوات برق را دارند که ۲۳.۷ میلیارد افغانی سرمایه‌گذاری برای آنها صورت گرفته اســت. با تکمیل و اسـتفاده عملی از این پروژه ها، مشـکلات کمبود برق در تعدادی از پـارک های صنعتی و همچنان هموطنان تا حدی حل خواهد شـد و پیشرفتی در امور پارک های صنعتی به میان خواهد آمد. علاوه بر پروژه های ذکر شـده در بالا، تعدادی از سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی برای سرمایه‌گذاری در تولید برق از انرژی خورشیدی، بادی، زغال سنگ و گاز علاقه‌مندی خود را نشان داده و در آینده کارهای عملی در این زمینه آغاز خواهد شـد. در حال حاضر، کشـور ما، افغانسـتان، تازه وارد روند رشد و توسعه اقتصادی شده است. اما مانند برخی کشورها، ما نیز با کمبود سرمایه مواجه هستیم، بنابراین باید از تمام ابزارهایی که به رشـد، توسـعه و رفاه اقتصادی ما کمک می‌کنند، استفاده کنیم. همانطور که قبلاً اشـاره کردیم، یکی از این روش‌ها، سرمایه‌گذاری است. اگر ما در جذب سرمایه‌گذاری مطابق با قوانین کشـورمان موفق شـویم، آنگاه می‌توانیم پروژه‌های زیربنایی را عملی سازیم، از منابع طبیعی بهره‌برداری کنیم، صنعت را تقویت، زراعت را میکانیزه نمایم و سـایر سکتورها پیشرفت نمایند. با این کار، مـا واقعاً اقتصاد قوی خواهیم داشت و کشـورمان توسـعه خواهد یافت. با جذب سرمایه گذاری از یک سـو رشـد اقتصادی ما سرعت می گیرد و از سـوی دیگر فرصت های شغلی برای هموطنان ما در داخل کشور ایجاد می شود و نرخ بیکاری به صفر نزدیک می شود.

## نتجه گیری

سرمایه‌گذاری نقش کلیدی در ریشـه‌کن سـاختن بیکاری دارد، زیرا محرک اصلی رشد اقتصادی و ایجاد فرصت‌های کاری اسـت. افزایش سرمایه، فرصت‌های کاری مستقیم ایجاد می‌کند. وقتـی در بخش‌هایی مانند صنعت، زراعت، تکنالوژی و زیربناها سرمایه‌گذاری می‌شود، کارخانه‌ها، پروژه ها و کسب‌وکارهای جدید ایجاد می‌شـوند. سرمایه‌گذاری مستقیماً فرصت‌های شـغلی را افزایش و بیکاری را کاهش می‌دهد. سرمایه‌گذاری همچنان سطح تولید را افزایش می دهد که این امر تقاضا برای تولیدات و خدمات را افزایش می دهد. به طور خلاصه، سرمایه گذاری نقش کلیدی در کاهش بیکاری دارد، اما ضروری است که سرمایه گذاری در بخش هایی انجام شـود که پتانسیل اشتغال بالایی دارند و به رشد اقتصادی کمک می کنند. هماهنگی بین حکومت و سکتور خصوصـی می‌تواند موفقیت این جریـان را بیشتر کند. به همین منظور، امارت اسلامـی گام‌های عملی برای جلب و جذب سرمایه‌گذاری برداشـته اسـت. در برخی سـکتورها سرمایه‌گذاری جذب شده و این روند هنوز ادامه دارد.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده سـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ۶۹,۱۵؋ | ۶۹,۲۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ۲۳۶؋ | ۲۳۶؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۱۸,۴۳؋ | ۱۸,۴۵؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۷۸,۴۷؋ | ۷۸,۵۳؋ |
| ۱ | روسي روبل | ۰,۹۰؋ | ۰,۹۰؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ۸۰۹؋ | ۸۰۹؋ |
| ۱ | انگليسي پوند | ۹۳,۱۸؋ | ۹۳,۲۴؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۱۸,۳۳؋ | ۱۸,۳۴؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۸,۸۳؋ | ۱۸,۸۴؋ |
| ۱ | چيني ين | ۹,۶۰؋ | ۹,۶۱؋ |

